**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama.unmissions.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**علیم صدیق، د یوناما ویاند،**

**داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه،**

*کابل- دوشنبه د می د میاشتی ۲۵ نیټه، کال ۲۰۰۹*

## د افغانستان په شمال ختیځ کي د سیلابونو په اړه نوی معلومات

د افغانستان په شمال ختیځ کي د سیلابونو ارزونه او د افغاني چاراواکو او نړیوالو نا دولتي سازمانونو له خوا د بشري مرستي د ویش لړی دوام لري.

**په بغلان کې:** د بغلان ولایت په پلخمري، دوشي، نهرین، او جلګه ولسوالیو کي ۳۱۹ سیلاب ځپلي او زیانمېندونکي کورنی په ګوته شوی دي.
د جلګه په ولسوالی کي ۴۰۰ کورنیو خواړه او نوري بشري مرستي تر لاسه کړي. په داسي حال کي چي د خنجان په ولسوالی کي ۲۰۰ کورنیو ته نقدي مرستي شوي دي چي هري کورنی ته ۱۰۰۰۰ افغانی ورکړای شوي دي . د جلګه په ولسوالی کي ۵۱ کورنیو چي خپل کورونه يې له لاسه ورکړي، د اړتیا وړ سرپناه او نور توکي تر لاسه کړل. چي په هغو کي خیمې، کمپلې، د پخلنځي سامانونه، پلاستیکي ترپالونه، او بشکي شاملي وې. او ۳۵۱ کورنیو ته چي د هغوي کورونه زیانمن شوي وو، د هرې کورنی پر سر ۲۰۰۰ افغانی نقدي مرستي وویشل شوې.

**د تخار په ولایت کي:** ۱۳۵۴ کورنیو خپل کورونه په بشپړه توګه له لاسه ورکړي دي او ۱۸۲۸ کورنېو کورونه په جزئي ډول زیانمن شوي وو. په مجموعي ډول ۲۰ کسانو خپل ځانونه له لاسه ورکړل، او د آبیاری ۱۴۶ کانالونه ویجاړ شوي (چي د آبیاری سیستم د زیربناوو ٪۸۰ تشکیلوي).
۱۷۹۹ جریبه زراعتی ځمکي تخریب شوي، او ۵۴ واړه پلونه ویجاړ شوي او د ۲۹۶۹ شاو خوا څاروي له منځه تللی دی.

خو له نیکه مرغه د آبیاری د تخریب شویو کانالو ۲۰ - ۲۵ فیصده د تېرو دوو اوونیو په ترڅ کي بېرته ترمیم شوي دي . ۳ میلیونه افغانی د مرستي په توګه پر خلکو ویشل شوی دی.
د ۳۰۰ کورنی د چاه آب، اشکمش، ینګی کلا په ولسوالیو کي او د تخار په مرکز تالقان ښار کي له سیلابونو څخه زیانمن شوي دی. او ۴۵۰ د ګبیون بستي ورکړل شوي دي او کانالونه پاک کاري شوي دي. په تخار کي د سیلاب څخه زیانمن شوو پر کروند ګرو تخمونه ویشلي د ی.

**په بدخشان کي:** د جرم په ولسوالی کي ۸۰ کورونه په بشپړه توګه ویجاړ شوي. د هغي ولسوالی د لارې د بندېدو له امله د فیض آباد د مرکز څخه دغي ولسوالي ته د مرستو رسولو پروسه له ځنډ سره مخامخ شوه. مونږ هیله کوو چي نن ورځ به هغو زیانمن شوو کورنیو ته خېمي کمپلي، پلاستیکي شیټونه، او ۲ ټنه اوړه ورسوو.

د فیض آباد د خان آغا په کلی کي ټول ټال ۲۱ کوره په بشپړ ډول سره تخریب شویدي. د کلیو د بیا رغونی او پراختیا وزارت د ۲۱ خیمو، کمپلي او د کورنیو ۲۱ بستی د متاثره شویو کورنیو سره تعهد کړی دی. هیله ده دغه مواد سبا ته ورسیږی. د نړیوال خوراکی پروګرام یو بلدوزر لا له وخته په کار پیل کړی او د بهارک او فیض آباد تر منځ لاره پاکوي او تمه کیږی چي سبا د ۲۰۰۹ کال د می د میاشتی په ۲۶ نیټه یو اسکواتور هم سیمی ته ورسیږی. خو لا ډیر زیات کار پر مخ پروت دي ځکه چي ۱۶ ولسوالی د فیض آباد د ولایتی مرکز سره اړیکه نه لري.

**کندز:** د علي آباد، خان آباد او امام صاحب په ولسوالیو کي نږدې ۶۳۲ کورنۍ زیانمني شوې دي. نږدې ۲۹۱۲۱ جریبه کرنیزه ځمکه زیانمنه شوې، ۶۰ باغونه له منځه تللي دي او نږدې ۸۸۰۴ څاروي وژل شوي دي.

**مرستي:** د دغو سیلابونو پرمهال نږدې ۴ میلیونه افغانی(د ۸۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو معادل) د اوبو لګوني د جوړښت د بیا رغولو لپاره اختصاص شوي دي.

ای آر سی اس د مرستو نږدې ۱۵۰ بستي، یونیسف ۳۰۰، او یو این ایچ سی آر د زیانمیدونکو کورنیو سره د ۱۰۰ بستو مرستي کړې دي. په هره مجموعه کي کمپلي، د پخلنځي سامان آلات، مرتبان، پلاستکي ترپالونه او کیږدی شاملي دي.

## په افغانستان کې د کليوالي سړکونو د جوړولو لپاره د ۱۱۲ میلیونو امریکایي ډالرو تمویل

د ملګرو ملتونو د پروژې خدمتونو لپاره دفتر د سړکونو جوړولو یوه درې کلنه پروژه پیل کړې ده څو د هیواد په کچه نږدې ۲۰۰۰ کیلومتره دوهمه او دریمه درجه سړکونه جوړ کړي.

د ۱۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو پروژه چې د نړیوال بانک له خوا تمویل شوې ده ، دا به د ترانسپورتي لګښتونو په راکمولو او د وخت د سپمولو په برخه کې مهم ګام وی، دا به د افغانانو لپاره کاری فرصتونه رامنځ ته کړی، سوداګری به وده وکړی او په پای کی به ملی امنیت پیاوړی کړی.

له ۲۰۰۲ کال راهیسي کلیوالو سیمو ته د لاس رسي ملي پروګرام، چې د یونوپس له خوا یې مالی مرسته شوی او د کلیو د پراختیا او بیارغوني د وزارت د عامه کارونو له خوا پلی شوی، ټول ټال ۹،۴۱۹ کلیو متره سړکونه یې جوړ کړي دی، چې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې یې کلیوالی سیمې یو له بل سره نښلولي، چې په افغانستان کې د کلیوالو ټولنو لپاره د کال په اوږدو کې بنسټیزو خدمتونو او امکاناتو ته لاس رسي یې غښتلي کړی دی.
نوموړی پروګرام د ۱۲،۴ میلیونو کاری ورځی او اړو افغان وګړو لپاره یې د ضروري معیشتونو زمینه برابره کړی.
همدارنګه نوموړی پروګرام ۶۶ پلونه، ۱۴ هوایي ډګرونه او ۷۳،۰۹۷ کلیو متره په سرک پوری اړونده جوړښتونه، لکه لښتي او استنادي دیوالونه جوړ کړي دي.

دغه پروګرام د استخدام د رامنځ ته کولو د هڅو په لړکی ، د خړوبوني د سیستمونو، د اوبو او روغتیا پالني د امکاناتو، ښوونځیو او کلینیکونو په ګډون پروګرام د ټولني لازمي زیربناوې جوړې کړي دي.

## د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، د کډوالو لپاره د ناروې د شورا په مشارکت له افغان بېځایه شویو وګړو سره د خپلو ځمکو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ تمه لری چې په ۲۰۰۹ کال کې د معلوماتو او حقوقي مرستي د مرکزونو له لارې د معلوماتو او حقوقي خدمتونو په برابرولو سره له ۱۵۰،۰۰۰ افغانانو سره مرسته وکړي، او همدارنګه لږ تر لږه له ۲۰۰ هغو کلیدي مسلکي کارکوونکو سره، چې په افغانستان کې په رسمي او غیررسمي حقوقي سیستمونو کې پر کار بوخت دي، د ظرفیت په جوړولو کې کومک وکړي.

د راستنیدونکو افغانانو د شمیرې په پام کې نیولو سره سږ کال (۲۰۰۹) د حقوقی مرستو د مرکزونو د لارې د ۵۰۰۰ کسانو د معلوماتو قضیې ثبت او تر کار لاندې به ونیول شي چې په دې کې د سرحد څخه د تیریدو راتیریدو مسله هم شامله ده.

د ۲۰۰۳ کال د مارچ څخه بیا د ۲۰۰۸ کال تر پایه د ټول ټال ۴۰۶۶ حقوقی قضیو په برخه کې مرسته شوی چې په دې کې د ارجاع او استولو او د تحفظ لپاره د مرستو د ملحوظاتو په پام کې نیولو سره چې غیر دولتي موسسو، د ملګرو ملتونو موسسو او دولتي ادارو سره د هیواد په کچه تماس نیول شوی دی. د ځمکي او ملکیت شخړی هغه ستر خنډونه دي چې د بېځایه شوو افغانانو لپاره د هغوي د راستنیدني په لار کې واقع دي، د ناروې د کډوالو د پلاوی سره هر کال د ۶۰۰ څخه تر ۸۰۰ پوری د ځمکي پیښي ثبت کیږي.

د هغو کسانو شمیر چې په ۲۰۰۹ کال کې به د ناروې د کډوالو د شورا د حقوقي مرستو څخه برخمن شي د اټکل له مخې ۴۸۰۰ تنو ته به ورسیږي.

## په ښوونځیو کې د ماشومانو لپاره د څښاک پاکې اوبه

د ملګرو ملتونو د پروژوي خدماتو د لاري د ۶۰ زرو په شاوخوا کي زده کوونکي د مصونه او پاکو اوبو څخه مستفید شوي دي.

د پاکو اوبو برابرول د ښوونځیو د ښیا رغوني او جوړوني په لار کې نه یوازې د کار مرکزي برخه ده بلکې د دي سره دي د موجوده زده کوونکو په زیاتوالی کې هم مرسته کړې ده، دا چې روغ ماشومان په دي برخه کې فعال برخه وال دي.

د کابل د ښوونځیو پروګرام چې د ملګرو ملتونو د پروژو د ملاتړي سازمان یونوپس له خوا یې ملاتړ کیږي، د ښوونځیو د ۶۰۰۰۰ ماشومانو لپاره یې د کابل په کچه د څښاک پاکي اوبه باوري کړي دي او دا چې ښوونکي ددې تایید کوي چې د حاضرو ماشومانو شمیر په دراماتیکه توګه پورته شوی دی.

په کابل کې اوه ښوونځي د نوو اسانتیاو څخه لکه برقي پمپونو ، ژورو ځاګانو څخه مستفید شوي دي چې دغو ژورو ځاګانو د څښاک اوبه په مصونه توګه راویستل کیږي چې هغه د لنډو ځاګانو د هغو اوبو څخه مصونه دي چې ورسره صنعتي کثافات او باکتریا یوځای کیږي، همدارنګه د اوبو زیرمي ورته جوړي شوي دي چې هلته اوبه د هر ډول ککړتیا په مقابل کې پاکولې شي.

د لابراتوار ټیسټونو دا تایید کړې ده چې د اوبو کیفیت د روغتیا د نړیوال سازمان د معیارونو سره سم چې د اوبو و ورځنی کاروني په برخه کې دي.

## د پخوانیو جنګي کسانو د بیا یو ځای کیدني د ملاتړ پروژه بشپړ شوی ده

نن ورځ د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د پخوانیو جنګي کسانو د بیا یو ځای کیدني د ملاتړ د پروژې د بشپړیدو اعلان وکړ. د دغې دوه کلنې پروژې له لارې ۱۷۰۵۷ کارکوونکي (۸۰ سلنه نارینه او ۲۰ سلنه ښځینه) چې هغو کې ۴۴۷۱ پخواني جنګي کسان په ۱۰ د کار د خدماتو په مرکزونو کې چې زیاتره د هیواد په سیمه ییزو مرکزونو کې وو ثبت شوي دي.

د دغې شمیرې څخه ۳۷۳۷ نارینه او ۱۳۶۸ ښځینه کسانو ته د کار امکانات برابر شوي دي. ددې سربیره ۶۸۵۳ د پروژو مستفیدینو د مهارتونو بیلا بیل روزنیز پروګرامونه دایر شوي دي چې په هغو کې تخنیکي او مسلکي روزنه شامله ده چې پخوانیو جنګي کسانو او د هغو د کورنیو غړو ته ورکول شوي ده څو چې د کار لازم مهارتونه ولري.

د دې ترڅنګ چې د کارموندنې او بیا یو ځای کیدنې خدمتونه علاقمندو کار درلودونکو او پخوانیو جنګي کسانو او د هغوي کورنیو ته برابریږي، ټول ټال ۲۰۴۰ علاقمندو کار درلودونکو د کار لپاره د غوښتن لیک د ورکولو د روزنیز پرورګرام څخه ګټه اخیستې ده او ۴۹۳ کسان د انګلیسي ژبې ابتدایي روزنې ته حاضر شوي دي چې د هغو څخه ۶،۸۲ سلنه یې ښځینه کار درلودونکې و.

دغه ډول روزنیز پروګرامونه د زده کوونکو لپاره د دې امکان برابروي چې د کار په مارکیټ کې شامل شي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره په دې برخه کې د څنګ له میزه معلوماتي پاڼه تر لاسه کړئ.

**د پوښتنو او ځوابونو برخه:**

**نور ټلويزيون:** په دې وروستيو کې داسې ګنګوسه ده چې ځينې مرستې چې سيلاب ځپلو ته ځانګړې شوې وې، په عادلانه توګه نه دي ويشل شوې، په دې اړه ستاسو نظر څه دی؟

**عليم صديق [یوناما]:** دا یوه کليدي او مهمه موضوع ده چې د مرستې موجوده توکي بايد په عادلانه او منصفانه توګه پر هغو خلکو چې د طبيعي حوادثو لکه سيلابونه او زلزلې څخه متاثر کېږي وويشل شي.

چېرته چې ممکن وي، د ملګرو ملتونو موسسې غوره ګڼي چې مرستې نيغ په نيغه هغو خلکو ته ورکړي چې بايد ورته ورکړل شي، او هغو ته چې مرستو ته تر ټولو زيات اړتيا لري. خو کله داسې وختونه هم شته چې هلته تقاضا دا ده چې دغې مرستې بايد د محلي نادولتي موسسې او يا دولتي چارواکو له لارې خلکو ته ورسېږي. او د ملګرو ملتونو له هره ممکنه هڅه کېږي ترڅو دا يقيني کړي چې هغه کسان چې مرستې ته اړتيا لري له دغې مرستې برخمن کېږي. او که چېرې داسې پيښې شته چې دغې مرستې په نابرابره توګه ويشل کېږي، نو دغه موضوع مونږ ته اطلاع راکړل شي او مونږ رسنی هڅوو چې دغسې موضوع ګانې وڅيړي او دهغې بيلګې خلکو ته وړاندې کړي تر څو مونږ وکولای شو د محلی چارواکو سره دا موضوع تعقيب کړو.

**ايرنا:** د کابل ويکلي په جريده يو راپور خپور شوی و چې ښيي لويديځ هېوادونه خپل هستوی ځځلي د هلمند او کندهار په ولسواليو کې ښخ کړي چې هغه او د هغو اوبو ککړتيا سبب ګرځي چې ګاونډي هيوادونو ته بهېږي، او ايرانيان او افغان ترې متاثر کېږي. آيا ملګري ملتونه په دی هکله کوم معلومات لري؟

**عليم صديق [یوناما]:** زه په دې اړه کوم معلومات نه لرم. زه وړانديز کوم چې تاسې دغه خبره د افغانستان د چاپېريال ساتنې ملي اداري سره شريکه کړې. ښايي چې دوی د دې ځانګړی مسألې په اړه معلومات و لري. خو مونږ په دې اړه کوم معلومات نه لرو.

**د افغانستان ملي راډيو تلويزيون:** راپورونه راغلي چې د لنډي کوتل او خيبر ايجنسي څخه نږدې ۳۰۰ افغاني کورنی بيا د کور ستنيدو ته اړې شوې دي. دلته ستونزه ده او امنيت هم ښه نه دی. په دې هکله ستاسو نظر څه دی؟

**نادر فرهاد، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کميشنری:** افغانان هيڅکله هم د لنډي کوتل او خيبر ايجنسی په سيمو کې نه و راجستر شوي. د ثبت کولو لړۍ د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کلونو په لومړيو مياشتو کې ترسره شوه، خو هيڅوک هم په دی سيمو کی راجستر نه شول. نو له دې کبله موږ داسې انګيرو چې په سرحدی سيمو کې په ځانګړی توګه FATA کی هيڅ رسمي ثبت شوی افغانان موجود نه وه. موږ باور لرو د هغو راجستر شويو افغانان لپاره چې موږ يې د ساتنې لپاره مسوول يو، په دغو سيمو کې نه اوسيږي. زموږ غوښتنې ډيرې روښانه دي: موږ د پاکستان د حکومت څخه غواړو چې ثبت شويو افغانانو ته د رضاکارانه راستنيدو يا د پاکستان په دننه کې د ځای پر ځای کيدو د انتخاب حق ورکړي. د پاکستان حکومت پخوا دغه اصل ته غاړه اينښې.

**پژواک:** زه غواړم په دې پوه شم چې د دې خلکو د نه راجستر کېدو سبب څه و؟ آيا دوی خپله نه غوښتل چې راجستر شي او يا د دوی راجستر کول له پامه غورځول شوی و؟

**نادر فرهاد، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمشنری:** که چېرې ستاسو په ياد وي، په ۲۰۰۵ کال د افغانستان او پاکستان په پولو کې د کډوالو کمپونه د ناامنی له امله وتړل شول. په ۲۰۰۵ کال کې شاو خوا ۳۲ کمپونه تړل شوی وو. او ټولو افغانانو ته دو چانسونه ورکړل شوې وی، چې يا افغانستان ته راشی او يا د پاکستان په دننه کې بل ځای ته واړوي.

او همدارنګه د کډوالو د نومونو د ثبتولو پروسه هم د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ په سر کې پيل شوه، او همدا سبب و چې په قبايلی سيمو کې کومې نوم ثبتوني تر سره و نه شوه. او دا احتمال شته چې ځينې افغانان لندی کوتل او خيبر ايجنسي ته راغلی وي.

زه غواړم چي ټینګار وکړم چي آیا دوی د راجستریشن کارډونه په لاس کي لري او آیا دوی اوس هم په لنډي کوتل کي ژوند کوي. نو هلته مونږ پاکستان حکومت څخه غوښتلای شو چي هغوی ته د داوطلبانه بېرته ستنېدل او یا هم د پاکستان په دننه کي بل ځای ته د تګ چانس ورکړي.

مونږ په دي باور یو چي که چېرته ځیني افغانان هلته واوسېږي هم، مګر دوی د راجستریشن کارډونه نه به لري، او د افغانستان حکومت هم اوس مهال د پاکستان له حکومت سره په دې اړه په خبرو بوخت دی.

**د آزادي اروپا راډیو:** افغان کډوال چي په قبایلي سیمو کي د پولي بلي خوا ته اوسیږي د اوسني ناوړه امنیتي حالاتو له امله اغیزمن شوي دي، ایا د دغو سیمو څخه د راستنیدونکو افغان کډوالو په بهیر باندي دا اغیزه لري؟

**نادر فرهاد، د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنری:** هغه امنیتي حالت چي د پاکستان د صوبه سرحد په ځینو سیمو کي لکه صوابی، سوات او بونیر کي دي نه یوازې د افغان کډوالو پر ژوند باندي منفي اغیز لري بلکي همدارنګه د دغو سیمو په محلي اوسیدونکو باندي یې هم لري، د ۱،۷ میلیونو څخه زیات پاکستانیان د خپلو اصلي سیمو څخه په تیره بیا د قبایلي سیمو څخه بېځایه شوي دي، همدارنګه هغه افغان کډوال چي په دغو دریو سیمو کي اوسیدل ۱۱۴۰۰۰ افغان کډوال چي هلته اوسیدل هغه د پاکستان نورو سیمو لکه پیښور ته بېځایه شوي دي چي د خپلو دوستانو او خپلوانو سره اوسیږي. دی د بیرته راستنیدني په پروسه منفی اغیزه نه ده کړې. سږ کال ۲۰۰۰۰ افغان پخپله خوښه خپل هیواد ته راستانه شوي دي چي دا د تیر کال په پرتله په دغه موده کي لږه شمیره ده، خو دا په دې مانا نه ده چي دغه شمیره په پورته نه ځي، هیڅوک د دې وړاندوینه نه شي کولای چي حالات به د شخړي پر مهال څه وي، خو مونږ دې ته چمتو یو چي په دغي وضعه کي کار وکړو کله چي په ډله ییزه او کتلوي ډول کډوال بیرته راستنیږي. خو مونږ تر اوسه پوري دغه ډول حالت نه دي لیدلی.

**د فردا تلویزیون:** آیا تاسو د افغانستان مرکزي برخو ته د بشري مرستو د رسولو په اړه نوي معلومات لرئ، مونږ اورو چي د بامیانو او دایکندي رابطه پرې ده؟

**نظیف الله سالارزی[یوناما]:** په دې اړه څه معلومات نه لرو کله چي مونږ د دغو سیمو په اړه معلومات تر لاسه کړو نو تاسو به پرې خبري کړو.

**د روز خبري آژانس:** ما د دغو نوو سړکونو د کیفیت په اړه پوښتنه درلودله، ځکه چي پخوا کوم سړکونه ترمیم شوي دي نو د یو څه وخت په تیریدو سره هغه بیا په ناوړه حالت کي راغلي دي، آیا تاسو کولای شئ مونږ ته ووایاست چي ددغو سړکونو کیفیت څه ډول دی؟

**علیم صدیق [یوناما]:** زه غواړم چي دې ته ځواب ووایم، خو زه د سړکونو د جوړولو ماهر نه یم. خو که تاسو له مونږ څخه پوښتنه کوئ نو اجازه راکړئ چي تاسو ته ددې باور درکړم چي تاسو د هغه چا سره په تماس کي شئ چي په دې پروګرام کي کار کوي او د سړکونو د جوړولو او د هغو د مراقبت په اړه معلومات لري.